آریانا افغانستان آنلاین
http://www.arianafghanistan.com

خالق رشید

۲۰۱۷/۰۵/۳۱

# د کابل تصویر،

## د آسمايي تصوير





**جان، جان څنګه جنګونه په کابل کيږي**

څه اوبنکي ويني فواري شوی دلته،

څه توري زلفي د خمارو سترګو،

په دی باروتو کي خوري، وري شوي.

څه د شملو بازار می سوړ غوندي شو.

څه د ګلونو رنګينه ښکلا مي

په دغه کلي کي په غم واوښته





ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

وای ، وای دا څه ظلمونه په کابل کیږي

جان، جان څنګه جنګونه په کابل کیږي



.

څه سپیني خولي له خنداګانو ډکي.

اوس د وحشت له غمه ساندي وایي

څه په نازونو نازولي کاته،

له نازولو نه مرګي اخلي،

څه د مابنام د غریبانو آوي،

د عاشقانو ،عارفانو څنګ کي

د سرو مردکو د بازار کریږو ارامي کړلي

وای، وای څه کوزارونه په کابل کیږي

جان، جان څنګه جنګونه په کابل کیږي



څه پینتني په سفر وخوځیدي

تناکي پینې په هغو لارو اوړي ژاړي،ژاړي

چي پري پرون هغه سرلوړی روسی اوانګریزی،

د لیوني قصاب په شان ووتل.

څه د تاجکي نجلی ناز نامراد شو،

چي له دي کلي مسافره دروميّ،

خدایه ګناه يي څه ده ،څه يي کړي

چي د سالنګ او جګدلي شمال يي ،

د سره سالو پیخکي په قار ریوي :

**وای، وای څه فریادونه په کابل کیږي**

**جان، جان څنګه جنګونه په کابل کیږي**





څه د مرګونو قافلې راغللې،

څه قافلې په مرګ څپوکې لاړې،

چې بې ګودره یې مزل پیل کړ،

څه دروغجن په رښتیاینه راغلل،

څه رښتیاني په دروغجنه لاړل،

څه ودانۍ په کنډوالو واوښتې،

څه ترانې دماشومانو چوپ شوې،

کنډرکنډر کوڅې سړې ډاروي،

زموږ دمینې دکابل په ښارکې

په یوه تورتم باندې اوښتي یوموږ

کله چې نیمه شپه له خوبه جګ شې،

اودکابل آرام زړګي ته غوږ شې،

نویورنځور غوندې زګیروي به واورې:

**وای وای ناحق مرګونه په کابل کیږي،**

**جان، جان څنګه جنګونه په کابل کیږي**

کله چې نیمه شپه له خوبه جګ شي،

او آسمايي په خوبولي نظر ښه وګوری،

نويوانځور به درکړي،

يوتاج محل به ګوري،

دتورو تورو مرمري ډبرو

چې په کې سرې لمبې اورونه بل دي

سترګې به پټې کړې ژړا به درشي

او يوناڅاپه به يوغږ بيا واوري،

ديوی غلګنې ډلې،

چې پردې ښار راغلي،

زړه به دې درد وکړي،

لاس به په سرونيسې چيغې به کړي:





**وای وای څه تاړاکونه پرکابل کيږي**

**جان، جان څنګه جنګونه په کابل کيږي**

پای